**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**«قمار» د پانگوال نظام گټوره سوداگري**

**(ژباړه)**



د تانزانيا په لر او بر کې د قمار زياتېدو او پرې د ډېريو ځوانانو مبتلا کېدو شور جوړ کړی. د قمار معامله کوونکو په قانوني توگه د خپل قمار مرکزونه په دولت کې ثبت کړي او دولت ته ماليه هم ورکوي. قمار نه يوازې د خلکو پر اخلاقو منفي اغېز کړی، بلکې د شتمنيو د له منځه تلو، د خلکو د لټۍ، بې صبرۍ او کورنيو شخړو لامل شوی. له بله اړخه د ځينو کورنيو له لوري قمار ته مخ کولو، خلک هڅولي چې په لږ وخت کې ډېره شتمني تر لاسه کړي.

دولت هم له قماره ډېره گټه تر لاسه کوي. نو ځکه څه نه وايي او خلک ورته هڅوي، څو دغه کار زيات شي. دغه راز ډېريو رسنيو د دولت ډول ته په گډا، قمار فضا کړې او ځوانان په لږ وخت کې د ډېرې شتمنۍ لاس ته راوړو فکر، سعادت او ډېرو مصارفو ته هڅوي.

دولت په 2014ـ 2015م کلونو کې 15.3 ميلیارده ډالر د قمار له ماليې تر لاسه کړل. دغه ارقام په 2015ـ 2016م کلونو کې 24.4ملیارده او په 2016ـ2017م کلونو کې36.8ملیاده ډالرو ته ورسېد.

د تانزانيا د هېواد په پارلمان کې، د مالي قانون له 201مادې او 4بند سره سم د قمار د گټې راټولولو غوښتنه وړاندې شوه. څو په قماربازۍ کې اصلاحات راشي، گټه راټولول او د گټې تخمين يې د دولت په غاړه شي.

په رسمي بڼه د قمار زياتېدل، د پانگوال نظام اساس او جوړښت ښيي. چې د تانزانيا په گډون يې پرمختللي هېوادونه اغېزمن کړي. دغه نظام يوازې په يوه شي تمرکز کوي، هغه هم په هر حالت کې د گټې پر زياتېدو، حتا که د فرد يا افرادو په زيان هم تمام شي.

اساساً هر دولت چې پانګوال نظام لېږدوي، نه یوازې په ګټه تمرکز کوي، بلکې دغه موخه تعقیبوي. د پانګوالۍ په اصلیت تر پوهېدو وروسته په ډاګه کېږي، چې دغه نظام په بشر هېڅ رحم نه کوي او تشویش یې هم نه لري او پر نړۍ د حاکمیت وړتیا هم نه لري. د دې لپاره چې کاملاً د قمار له افت څخه ځان خلاص کړئ، دې ته اړتیا ده، چې د پانګوالې اېډیولوژۍ پر ځای د اسلام اېډیولوژي ځایناستې کړو، چې د اعمالو معیار یې یوازې حلال او حرام دی. هېڅکله ګټه لومړیتوب نه ټاکي. ددې ترڅنګ د اسلامي شریعت پلي کول زموږ مکلفیت دی او دغه نظام له ځان، مال، عزت او د بشر له نسله ساتنه کوي.

مثلاً: اسلام له الکولو، زنا، سود او داسې نورو مخنیوی کوي. ان که د انسانانو په ګټه هم وي. قمار په اسلام کې د ګټې په نه پام کې نیولو سره سره قطعاً حرام دی. هر هغه څوک چې سالم عقل لري باید پوه شي، چې قمار د کینې او دښمنۍ لامل ګرځي. دغه راز خلک یې غولولي چې کولای شي، په اسانۍ ډېرې پیسې تر لاسه کړي.

**إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ**

[مائده: 91]

***ژباړه:*** *شیطان د قمار او شرابو په وسیله ستاسو تر منځ کینه او دښمني اچوي. د الله سبحانه وتعالی له ذکر او لمانځه مو راګرځوي.*

*ایا له دغه ټول فساد، زیان او سترې منع سره سره به یې مخنیوی وکړئ؟*

مسلمانان مکلف دي، چې نه سترې کېدونکی کار وکړي، څو اسلامي نظام د خلافت دولت تر حاکمیت لاندې د سوداګرۍ قوانین وضع کړي. او غیر مسلمانان باید اسلام ژور مطالعه کړي څو هغه اېډیولوژي چې بشر ژغوري د پانګوالې چټلې اېډیولوژۍ پر ځای غوره کړي.

**مسعود «مسلم»**

**د حزب التحریر۔ تانزانیا ویاند**

**د صدور ګنه: 1440/03**

**1440هق د جمادی الثاني 1**

**2019م د فبروري 6مه**